WWW.CSRSKABUL.COM

## مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
## د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

شماره: ۶۵ (از ۲۳ الی ۳۰ حمل ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## په دې ګڼه کې لاندې مطلبونه لولئ:

## آیا معتصم هم فدای صلح شد؟


- مقدمه ............ ۳
- گفتگوهای صلح؛ و خواست کرزی از طالبان ............ ۳
- اخراج ملاآغا جان معتصم از ترکیه ............ ۴
- قضیۀ ملامعتصم پاسخ به اقدام کرزی ............ ۵

# پر ملکي وګړو د بمبارۍ وروستۍ پېښې څه پیغام درلود؟


- مقدمه ........ ٦
- آیا د زورورو قاتلانو محاکمه شوني ده؟........ ٦
- د ملکي وګړو وژنه د امریکا مهمه وسیله........ ٨
- د امریکا د وژنو ستراتېژۍ د بدلون وړ ده؟........ ٩

# آیا معتصم هم فدای صلح شد؟



## مقدمه

پس از ناپدید شدن ملا آغاجان معتصم یکی از مقام‌های پیشین حکومت طالبان در امارات متحدۀ عربی، ، مقامات آن کشور باوجود تماس‌های مکرر حکومت افغانستان، از دادن معلومات در مورد سرنوشت وی، ابا می‌ورزیدند.

هرچند گزارش‌های رهایی ملا آغاجان معتصم نیز به نشر رسیده است، اما سوال در اینجاست که آغاجان معتصم چرا از ترکیه به دبی رفت؟ چرا در آنجا بازداشت گردید؟ و هدف راه اندازی این قضیه چیست؟ همین موضوع را وحید مژده تحلیلگر مسائل سیاسی تحلیل کرده است:

## گفتگوهای صلح؛ و خواست کرزی از طالبان

تلاش در جهت صلح در افغانستان کاری نه تنها دشوار بلکه خطرناک است. چندی قبل زمانی که یکی از تحلیلگران سیاسی افغان جنرال غلام حسین هزاره مورد سوء قصد نافرجام قرار گرفت، یکبار دیگر مشخص شد که سخن از صلح گفتن حتی می‌تواند خطر جانی در قبال داشته باشد. جنرال هزاره همیشه روی مذاکره با مخالفین برای تحقق صلح در کشور تاکید داشت، اما شاید او هم نمی‌دانست که تا آیندۀ نامعلوم برنامه‌ای برای صلح در این کشور وجود ندارد و سخن از صلح به میان آوردن، خلاف جریان آب شنا کردن است.

کشمکش میان رئیس جمهور کرزی و امریکا بر سر امضای قرارداد امنیتی نیز مشخص ساخت که در این بازار آشفته سیاست اگر سخنی خریدار داشته باشد، رجز جنگ است و کشتن و آویختن جسد دشمن به دروازه‌های شهر. امریکا برای تحقق نسبی این خواست رئیس جمهور کرزی که باید قبل از امضای قرارداد امنیتی، مذاکرات صلح با مخالفین آغاز گردد، از طریق کشورهای آلمان و قطر بار دیگر در صدد تماس با طالبان شد. امریکا پذیرفت که پنج تن از زندانیان طالب را از زندان گوانتانامو آزاد سازد و در مقابل طالبان نیز برای آزادی یک سرباز امریکائی اعلام آماده‌گی نمودند، اما ناگهان سخنگوی

طالبان اعلام نمود که امارت اسلامی به دلیل (پیچیده گی‌های وضع سیاسی در افغانستان) مذاکره با امریکا را، بار دیگر به حالت تعلیق درآورده است. طالبان به این باور اند که امریکا از برنامۀ صلح بعنوان یک ابزار برای مقاصد جنگ طلبانه استفاده می‌کند.

شایعاتی وجود داشت که رئیس جمهور کرزی در تماس با طالبان از آنان خواسته بود تا با مذاکره با امریکا، زمینه را برای تحقق این شرط وی فراهم نکنند و وی را برای امضای قرارداد امنیتی تحت فشارهای بیشتر داخلی و خارجی قرار ندهند. طالبان نیز با درک این مسئله (که آنرا پیچیده گی‌های وضع سیاسی افغانستان) عنوان کردند، مذاکره با امریکا را بار دیگر به حالت تعلیق درآوردند.

## اخراج ملاآغا جان معتصم از ترکیه

از جانب دیگر حکومت افغانستان هم مذاکراتی را در دبی با تعدادی از شخصیت‌های طالبان به رهبری آغا جان معتصم آغاز کرد که گفته شد در این مذاکرات، بعضی از وزرای سابق طالبان از جمله مولوی عبدالرقیب هم حضور داشته است. اندکی بعد و همزمان با آغاز مذاکرات شورای صلح با طالبان در دبی، مولوی عبدالرقیب در پیشاور ترور شد. حکومت افغانستان جسد وی را به تخار انتقال داد تا نشان دهد که وی از هواداران صلح با حکومت افغانستان بوده است، اما حقیقت این بود که مولوی عبدالرقیب مدتی قبل، از آغا جان جدا شده بود و در کنفرانس دبی هم اشتراک نداشت.

هرچند طالبان قتل مولوی عبدالرقیب را کار دشمنان دانستند اما بعضی‌ها به این باور اند که در داخل صف طالبان گروهی تندرو از فدائیان وجود دارند که هرگونه تماس با حکومت افغانستان را خیانت تلقی نموده و حاضر اند چنین کسانی را بکشند. حتی اگر این شخص، از مقامات عالیرتبۀ طالبان هم باشد.

گفته می‌شود که پاکستان در عقب این قتل‌ها قرار دارد، اما سوال اینجاست که اگر پاکستان با عناصر صلح طلب در صف طالبان افغان مشکل دارد، پس چرا ملاآغا جان معتصم را که زخمی شد و در حال مرگ بود، تداوی کرد و سپس به افغانستان فرستاد تا بعنوان یک طالب میانه رو، پیام آور صلح باشد؟

ملاآغا جان از کابل به ترکیه رفت و گفته شد که شاید دفتری برای طالبان در ترکیه گشایش یابد، اما دولت ترکیه به این کار تمایلی نداشت. کار ملا معتصم زمانی مشکل تر شد که طالبان سرنشینان یک هلی کوپتر را که در ازره ولایت لوگر نشست اضطراری کرده بود، دستگیر کردند که بیشتر آنان اتباع ترکیه بودند.

طالبان در اندک مدت گروگان‌های ترکی را آزاد کردند که البته این کار بدون قیدوشرط نبود. طالبان در برابر آزادی آنان خواهان اخراج ملامعتصم از ترکیه شدند. ترکها هم به تدریج برای معتصم مشکل ایجاد کردند و از تمدید ویزهٔ خانواده اش خودداری نمودند.

از جانب دیگر سفر دوستان ملامعتصم از پاکستان به ترکیه نیز مشکل بود و خود وی نیز هربار برای ملاقات دوستانش مجبور بود تا به دبی سفر کند که به تدریج این سفرها طولانی تر شد.

در شرایطی که دولت افغانستان مدعی بود با طالبان در تماس است، ناپدید شدن ملا معتصم سروصدای زیادی برانگیخته است. اخباری هم بگوش می‌رسد که وی را در خانه‌اش در امارات تحت نظر قرار داده اند. با توجه به این حقیقت که معتصم در امارات خانه نداشت و همیشه در سفر به دبی، در هوتل‌های مجلل زنده‌گی می‌کرد، این خبر زیاد دقیق به نظر نمی‌رسد. البته ممکن است وی را در جائی تحت نظر قرار داده باشند.

## قضیهٔ ملامعتصم پاسخ به اقدام کرزی

قرار گزارش‌ها تاکنون مقامات امنیتی امارات از اتهام وارده بر معتصم چیزی نگفته اند. اگر اتهام وی اقامت بدون مجوز در امارات باشد، طبق قوانین این کشور، چنین افراد زمانیکه از کشور خارج می‌شوند، به اندازهٔ مدتی که بدون مجوز سپری کرده‌اند، جریمهٔ نقدی می‌پردازند. در موارد خاص، اگر شخص متخلف دستگیر گردد، رد مرز شده و به کشور متبوعش فرستاده می‌شود و اگر قضیه جدی باشد، چنین شخصی دیگر نمی‌تواند به امارات سفر کند.

اما به نظر می‌رسد که قضیهٔ معتصم تخلف ساده از این دست نیست. با توجه به این حقیقت که دولت امارات تحت نفوذ امریکا قرار دارد، آیا این کار نوعی جواب به اقدام کرزی نیست که گفته می‌شود از طالبان خواسته بود تا مذاکره با امریکا را متوقف سازند؟

آیا معتصم در جریان ملاقات‌های خود در امارات با کسی ملاقات کرده که نام وی درلیست سیاه امریکا بوده است و به این ترتیب بهانه‌ای بدست امریکا داده تا از مقامات امنیتی امارات بخواهد که وی را دستگیر نمایند؟

این قضیه یکبار دیگر نشان می‌دهد که صلح در افغانستان لااقل تا آیندهٔ قابل پیشبنی، در دستور کار نیست و هرکسی که بخواهد در این راه گام بگذارد، گام در جادهٔ پرچالشی نهاده است و چنین خطراتی را باید به جان بخرد.

## پر ملکي وګړو د بمبارۍ وروستی پیښې څه پیغام درلود؟



### مقدمه

که څه هم په دې وروستیو کې پر ولسي وګړو د بهرنیو ځواکونو د بمباریو کچه راټیټه شوې ده؛ خو د تېرې سې شنبې په شپه (۱۳۹۳ لمریز کال د وري په ۲۶مه) یو ځل بیا په خوست ولایت کې د امریکایي ځواکونو په بمبارۍ کې مېرمنې او ماشومان ووژل شول.

د دغو بریدونو تر شا اهداف به کله پوره کېږي؟ امریکا به د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره دا وسیله تر کومه کاروي؟ او آیا د دوی دا ستراتېژي به کله بدلېږي؟ د دغه راز بریدونو خبرونه تکراري شوي؛ خو د دغو بریدونو کیفیت ته په کتو سره، ډېرې پوښتنې بې ځوابه دي. همدا موضوع د سیاسي چارو څارونکي حکمت الله ځلاند په خپل تحلیل کې څېړلې ده:

### آیا د زورورو قاتلانو محاکمه شوني ده؟

د بن په کنفرانس کې د انتقالي عدالت او د جنګي مجرمینو د محاکمې نارې وهل کېدې او د جنګي مجرمینو د محاکمې پلانونه طرحه کېدل؛ خو آیا هغه جرمونه چې په تېرو دیارلسو کلونو کې امریکایي ځواکونو په افغانستان کې وکړل، د محاکمې وړ نه دي؟ دا نړیوال مجرمین به څوک محاکمه کوي؟

هر کله چې بې ګناه ولسي وګړو ته په بمباريو کې مرګ ژوبله اوښتې يوازې په غندلو او په تېروتنه بللو اکتفا شوې. دا بمبارۍ او بريدونه تېروتنه بلل پر خپل ځای يو سپکاوی دی، ولې تېروتنه وبلل شي؟ اصلي موخې دې په ډاګه شي. آيا امريکايي ځواکونه په دې توګه د کابل حکومت ته يوازې دا ورفهموي، چې د هرڅه توان لري او دغو خپلسريو ته يې څوک ځواب نه شي ويلای؟ او که نور اهداف يې هم تر شا پراته دي.

په تېرو شاوخوا ديارلسو کلونو کې د امريکايي او بهرنيو ځواکونو په هر قصدي بريد کې، لسګونه او سلګونه بې ګناه او بې دفاع ولسي افغانان وژل شوي، چې دا چاره له تېرو څو کلونو راهيسې بيا د بې پيلوټه الوتکو له لارې هم دوام کوي.

د دې پوښتنې ځواب له چا سره نشته، چې هغه څوک چې د بشري حقونو د خونديتوب نارې سورې هم وهي، دارنګه زړه بوږنوونکي جنايتونه کوي؛ آيا يوه ورځ به د محاکمې مېز ته کېنول کېږي کنه؟ او څوک به يې د انتقالي عدالت د پلي کولو او د نړيوالو جنګي مجرمينو په تور محاکمه کوي او کنه؟ يا دا چې د افغانانو وژنه هر چا ته جواز لري او وژل يې جنګي جرم نه بلل کېږي.

هرکله چې ورته جنايت کېږي، دا خو لاڅه چې قاتلين يې محاکمه شي، بلکې په ډېرى مواردو کې تشه ښننه هم نه غواړي او يوازې يوه تېروتنه وبلل شي. اوس افغانان هم داسې انګېري، بهرنيو ځواکونو ته د افغانانو وژل جواز لري او څوک دا تمه نه لري، چې دا نړيوال زورواکان به يو وخت د دغو جنايتونو په تړاو د ځواب ويلو لپاره د محاکمې مېز ته کېنول کېږي. تر اوسه د هغو بې شمېره جنايتونو له ډلې، ايله د يوه جنايت د عاملينو په نمايندګۍ د رابرټ بېلز په نوم د يوه کس شکلي محاکمه شوې ده، چې د ۲۰ افغانانو د وژلو تور ورپورې و؛ خو يوازې په څو موده بند محکوم شو.

له بلې خوا د دغو جناياتو په تړاو د ځينې سيمه ييزو افغان چارواکو او ځينې افغاني رسنيو غبرګون هم ډېر ځوروونکی دی. هر کله چې دا ډول بريد شوی، سيمه ييزو چارواکو يې په يو ډول د تحريف هڅه کړې ده. کله چې په ۱۳۹۰ کال کې امريکايي ځواکونو د کندهار ولايت په پنجوايي ولسوالۍ کې د شپې له خوا شاوخوا ۲۰ تنه ولسي وګړي په خپلو کورونو کې ووژل او بيا يې اور ورواچاوه، نو په لومړي سر کې د کندهار ولايت چارواکو د پېښې د پټولو لپاره خندوونکې څرګندونې کولې.

د امريکايي ځواکونو د دارنګه کړنو پر وړاندې د ډېرى رسنيو چلند هم دې ته ورته دی. د تېر لمريز کال د کب مياشتې په ۱۵مه امريکايي ځواکونو په لوګر کې د ملي اردو پر هغه پوسته بريد وکړ، چې مخکې بهرني ځواکونه پکې مېشت وو او پينځه تنه افغان سرتېري يې ووژل؛ خو ډېرى رسنيو حتی د هغې پېښې خبر هم خپور نه کړ.

دا ځل هم په خوست کې د امریکایي ځواکونو له خوا د استوګنې پر یوه کور د برید او مرګ ژوبلې خبر د خوست ځایي چارواکو په یو ډول تحریفاوه او ویې ویل، چې د امریکایي ځواکونو په پوځي تمریناتو کې دا مرګ ژوبله اوښتې ده. مګر دا هغه څه دي چې بهرني ځواکونه یې د خپل پلان له مخې ترسره کوي او وخت ناوخت په دا ډول بریدونو سره بېلابېل پیغامونه لېږدوي.

## د ملکي وګړو وژنه د امریکا مهمه وسیله

کله چې په جګړه کې ولسي وګړو ته مرګ ژوبله اوړي، نو لامل یې مشخص وي؛ خو د استوګنې پر سیمو او ملکي وګړو له کوم مشخص لامل پرته بمباري او بریدونه بیا نور پیغامونه له ځان سره لري. ظاهراً دا ډول پېښې تېروتنه بلل کېږي؛ خو هېڅ منطق دا نه مني چې پر لسګونو او سلګونو بې وسلې کسانو بیا بیا او له ګڼو اعتراضونو سره سره بمباري وشي او هغه دې تېروتنه وي. په تېرو کلونو کې پر بې ګناه ولسي وګړو د امریکایي ځواکونو د بریدونو دوام څرګنده کړه، چې د امریکا د سیاسي غوښتنو د تحمیلولو، یوه وسیله هم د ولسي وګړو وژل دي.

کابو درې میاشتې وړاندې کله چې ولسمشر کرزي د امنیتي تړون له لاسلیک کولو ډډه وکړه، امریکایي ځواکونو د پروان ولایت په سیاه ګرد ولسوالۍ کې د ملکي وګړو پر کورونو بمباري وکړه او تر شلو زیاتو ملکي وګړو ته یې مرګ ژوبله واړوله. شواهدو وښوده چې هغه برید په یو ډول د ښاغلي کرزي د دریځ ځواب وبلل شو.

له کومې نېټې چې بهرني ځواکونه افغانستان ته راغلي دي، د اروزګان په دهراوود ولسوالۍ کې د واده پر مراسمو له بمبارۍ رانیولې تر نن ورځې پورې د دغو بریدونو کیفیت حیرانوونکی دی او کله ناکله دا هدفي بمبارۍ حتی د افغان ځواکونو پر پوستو هم شوې دي.

په اوسني وخت کې هم د افغانستان شرایط په حساس پړاو کې دي، د نوي ولسمشر په ټاکلو کې د امریکا د ګټو خوندیتوب، د راتلونکي ولسمشر له خوا له امریکا سره د امنیتي تړون لاسلیک او داسې نور موضوعات، چې په راتلونکي کې به د امریکا د غوښتنو د نه منل کېدلو په صورت کې له دې وسیلې کار اخلي.

د افغانستان د ولسمشرۍ له ټاکنو یوازې څو ورځې وروسته دارنګه برید او په دغو حساسو شرایطو کې د امریکایانو له خوا دا ډول کړنې دا پیغام هم له ځان سره لري، چې که په راتلونکي کې په افغانستان کې هر ډول حکومت واکمن

وي، د دوی پر اهدافو به هېڅ اغېز ونه لري او په خپلسري ډول به د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره ټولو خپلسريو ته دوام ورکوي.

دا چې په تکراري ډول وخت ناوخت دا بريدونه کېږي، د افغانستان د ولسمشر هغې غوښتنې ته د "نه" ځواب وايي، چې بار بار يې د افغانانو پر کورونو د عملياتو د بندولو لپاره کړې او په هېواد کې د سولې او روغې جوړې په لار کې، د امريکا له خوا د رښتيني گام اوچول غواړي.

له بلې خوا امريکا د ترهگرۍ په نوم افسانې سره غواړي، چې په سيمه کې خپل استعماري پلانونه تضمين کړي او افغانان د خپلو غوښتنو منلو ته اړباسي. د دوی هدف، د زور له لارې د نوي او مډرن ښکېلاک، چې په نوو لارو چارو پلی کېږي، په سيمه کې تطبيقول دي.

## آيا د امريکا د وژنو ستراتېژي د بدلون وړ ده؟

د افغانو پر کورونو د امريکايي ځواکونو د عملياتو په تړاو په تېره په وروستيو کلونو کې په پرله پسې ډول ولسمشر کرزي جدي غبرگون ښودلی او هغه يې د افغانستان او امريکا د ټولو دوه اړخيزو موافقو خلاف بللي دي او بالاخره يې همدا شرط د امنيتي تړون د لاسليک په اړه هم امريکا ته کېښود.

د ولسمشر کرزي دغه دريځ تر يوه بريده د دغه راز بريدونو په راکمولو کې اغېزناک و؛ خو د امريکايي لوري له دريځونو تل دا روښانه شوې، چې د افغان وژنې د لړۍ درولو هوډ نه لري.

د امنيتي تړون د لاسليک په اړه د مشورې لپاره رابلل شوې لويې جرگې تر پرانېستې وړاندې د امريکا ولسمشر بارک اوباما، حامد کرزي ته په رااستولي ليک کې ويلي وو، چې امريکايي ځواکونه به نور د افغانانو پر کورونو عمليات نه کوي؛ خو د اوباما په ليک کې دا قيد هم راغلی و، چې فوق العاده حالتونه به استثنا وي. دا قيد د ملکي وگړو پر کورونو د عملياتو د دوام په معنا و او هرکله به چې دوی د استوگنې پر سيمو بمباري يا عمليات کوي، نو استثنايي حالت به يې بولي.

د دې ترخنگ کوم متن چې د امنيتي تړون لپاره هم چمتو شوی و، د تړون له لاسليک وروسته امريکايي ځواکونو ته د دغه تړون د دويمې مادې له مخې د عملياتو د دوام اجازه ورکړل شوې وه. همدا اندېښنه مشورتي لويې جرگې ته حامد کرزي په خبرو کې هم راڅرگنده شوه، نوموړي وويل: «امريکايانو په تېره لسيزه کې زموږ د تمې خلاف، د افغانستان د

ملت پر ضد فعالیتونه ترسره کړل؛ بې ګناه وګړي یې ووژل، د خلکو کورونو ته ننوتل. زه پر دغو کارونو راضي نه وم؛ خو اوس که د دغه تړون له لاسلیک وروسته هم دغسې کارونه تکرارېږي، معنا به یې دا وي، چې زه هم د هغوی دا کارونه تاییدوم.» دا هغه څه دي، چې په څرګنده دا پیغام لېږدوي، چې که امنیتي تړون لاسلیک شي هم، افغانان به د امریکایي ځواکونو له هدفي بمباریو هېڅکله هم خوندي نه وي.

په تېرو کلونو کې د امریکایانو د ژمنو او عمل تر منځ تل توپیر موجود و او د هغوی د ځواکونو بریدونو تل دا په ډاګه کړې، چې دوی د افغانستان د خلکو خوندیتوب او د افغان چارواکو پرېکړو او غوښتنو ته هېڅ ارزښت هم نه ورکوي.

که امریکایي ځواکونه د دوی پلان ته په کتو سره په افغانستان کې د جګړې بڼه هم بدله کړي او په لویو اډو کې مېشت شي، افغانان به د دوی له دغو هدفي بریدونو کله هم خوندي نه شي او وخت ناوخت به د خپلو اهدافو د پلي کولو لپاره له دې وسیلې کار اخلي. دا خبره روښانه ده، چې تر کومه چې امریکایي ځواکونه په افغانستان کې مېشت وي، په هېڅ صورت هم پر ملکي وګړو د دوی د بریدونو د بندېدلو تمه نه شي کېدای. پای